د باران انځور

شعري ټولګه

صدیق الله بدر

SAMSOOR.COM

WWW.SAMSOOR.COM

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه خبرې

چې راتــه کله کړې په خوله خبرې
ماتــه معــلومې شي د زړه خبرې
وړوکــی نه یم چې به هیر کړمه تا
هېــریــدل تــل وي د واړه خبرې
وړی دا ستا د مینې موړ به نه شي
مینــه کــې نــه کـړم د ماړه خبرې
وایم چې تل وای خو په خوا راسره
چـــې مـــو کولای د هر څه خبرې

چې مئیـن زړه مې "بدره " نه ژړوي
مـــه کــوه بیــا د بیــلتانه خبرې
۱/۱۰/۱۳۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټ وختونه

د غم په دنیاګۍ کې نن غمونه راته خاندي
د یار په اننګو کې سره لالونه راته خاندي
دا څنګه زمانه شوه چې مې حال ویلای نه شم
زما د مینې کورکې پټ وختونه را ته خاندي
د مینې دنیاګۍ کې اوسیدل راته ګران شوي
د ګرانې په بڼو کې جوړ مرګونه راته خاندي
ژړا مې چې په سترګو نن راتللې هسې نه شي
دیار د سترګو منځ کې څه رازونه راته خاندي

توکل په خدای ورځمه د زړه حال اوس ورته وایم
د ښکلي یار په شونډو کې ستونه را ته خاندي
۱۳۶۲/۲۵/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت امتحان

اباديِ مــــې د وطـــن زړه کې ارمان دی
چــــې اباد کړمــه وطن دا مې پيمان دی
د وطـــن د مـــور اواز دی هـــر بچي ته
چې راغلــــي نن د وخت لوی امتحان دی
په ورورۍ کې د ژوندون خوشالۍ نغښتي
تربګنــــــۍ کې ژوند په مثل د زندان دی
د وطـــــن پر ګنـــــو واړه سره يو شئ
ځانځانـــــۍ کې د هر چا نغښتی تاوان دی
خپه زړونه بــه خوشال شي که خدای وکړي
په زحمـــــــت پسې راحت د هر انسان دی
نـــوک او ورۍ کله بيلېــږي لا په ژوند کې
نـــوک او ورۍ په شان دا لوی ټبر افغان دی
۱۳۶۶/۱۰/۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزادي

پرون وسوم
نن هم سوځم
زما برخه سوځېده دي
ازادي ازادي وايم
خو لا سونه مې په خوله دي
۱۳۶۶/۱۱/۱

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وصل ترانې

لاره د ژوند زما رڼا شوله
راسره ګرانه چې پخلا شوله
اوس به د وصل ترانې وایمه
شپه د هجران لاړه سبا شوله
یاره راځه زما او ستا مینه کې
دنیا خو اوس زما او ستا شوله
جنون د مینې ته مې مه وایه څه
راته هر خوا لیلا لیلا شوله

"بدره" پروا د غماز مه کوه ته
د غماز خونه نن تالا شوله
۵/۱۱/۱۳۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق تقوا

ګرانـــې چې تا بيا په راتلو کې وينم
زړه لـــه خوښۍ نه په ټوپو کې وينم
دا دی دا ستـــا د خوږې مينې اثـر
چــې کـراري خپــلو دردو کې وينم
دا چـــې سپـــرلو نه بې پروا يمه زه
سپرلـــی دا ستا په اننګو کې وينم
ما تــه شـي هيڅ د ساقي نوم و نښان
نشې چې ستا سترګو پيالو کې وينم

د عشـــــق تقوا سـره د "بدر" سر شو
ځکه يې تل د عشـق سجدو کې وينم
۱۵/۱۱/۱۳۶۲

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لېونتوب خبر

ولـــــې نن لـه مانـه نا اشنـا شولې
وايـــه چې په لمسه ته د چا شولې
دا بــــه وي خبر د لیـونتوب زما
هیلـــې مـې د میـنې چې تالا شولې
ما تــــه هر نظـر کې ښکاریدلې ته
څه لـه مـې له سترګو نه پناه شولې
ما ویل چـــــې ته به با وفا یې تل
لاړې پــه وعدو کې بې وفا شولې

ته خو نن سپوږمۍ د زلمي "بدر" یې
خیر کـــه یو شیبــه را نه جدا شولې
۱۳۶۶/۱۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

تللي یاراني

ډکې چې خندا نه خولې د ګلو دي
ځکه بیا ناري پرې د بلبلو دي
خونې د غمازو هسې وراني شوې
شپې چې د وصال په رسیدلو دي
نن چې مې زړګی هسې خوشاله دی
تللي یاراني په بیا راتللو دي
دا سترګې تیارې زما ړنا شولې
شپې د بیلتانه چې په وتلو دي

شیخ چې د ښکلا په ښار دېره شو وېل
ښکلې چې څه دي، د ښکلولو دي
۱۳۶۷/۱/۳۰

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوارې سترګې

دا خـو د ناكامې مينـــــې چارې دي
اوښكې مې په سترګو لارې لارې دي
مينـــه چې زما ورتـــــه درنه نه شوه
دلته د خوارانو برخــــې خوارې دي
زړه مې چې ګوګل كې دی پرهر ترېنه
څومره د اشنا سترګـــې مكارې دي
رنګ چې ترې ګلان د مينې اخلي تل
دا د ميـــن زړه د وينـــــو دارې دي

اخلــې كه خمار ترينه د مـــــــينې تل
"بـدره " د جانان سترګې خمــــارې دي
۱۳٦۷/۲/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناسوري پرهر

تـــــورتــم رنـا ، رنـا تـــورتم وګڼه
غـــم خوشالي، خوشالي غم وګڼه
چـــې يـې نظر هم په تا نه خوږيږي
زړګيـــــه دا د يــــار ستـــم وګڼه
چې ناسوري پرهر رغيږي پرې ستا
اوس يـې يـادونـه هم ملهم وګڼه
کـــله د ګـــل پر مخ شبنم چې ويني
تـــه يـــې زمـــا د ستـــرګو نم وګڼه

تـا چې پرې غم د خپلې مينې وکښه
"بـدره " خـــواخـــوږی خپل قلم وګڼه
۱۳۶۷/۲/۲۴

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مکر جال

ټټر د ګلــو چې اغــزو وچیــړه
هســـې ارمـــان مې اسویلو وچیړه
بس که ساقي دومره زیاتی څه پکار
زمـــا تنـــــدی دې په نشو وچیړه
د مکـــر جال دلته دی چا خور کړی
تـــار د جنـــون چې لیـــونو وچیړه
دا چـــې پیغــور مې د غمونو وړمه
دا خـــو مې زړه ستا په یادو وچیړه

بـــدره باور مې په باور شته دی خپل
خیـــــر که مې ذهن په فکرو وچیړه
۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوني محل

ستر ګې دې شوې ډکې له ژړا په څه
مینـــې دا دې وکـــړلـــه ښیرا په څه
لاړې چې جونګـــړې د ښکلا وو ته
راغلې دې خوني محل ته بیا په څه
یـا ره ستا خو زلفې وې پر مخ پرتې
دا شــــوله پیدا دلته رڼا په څه
دا خـــو هـــم ته وګڼه چې څه وشو
اوښکې راغلې ستر ګو ته زما په څه

بدره چې دې نه غوښته خیالونو کې
بیـــا دې ورتـــه وویلې اشنا په څه؟
۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرکلی

ځنګه چې خپه ومه په تلو د یار
هسې یم خوشاله په راتلو د یار
مه وایه رقیبه بد یې مه وایه
زه هسې روان یمه په پلو د یار
وخت چې هرکلی مې د پښتو کوي
خود شوه راته ګرانه نن پښتو د یار
سترګې یې په مینه چې رابولي ما
ځای مې د ځان وینم په ښو د یار

بدر چې خوشال پرې خپل خاطر ګڼي
ښکاري یې باور بیا په وعدو د یار
۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلا

پس له مودو نه نن شپه
پاس د اسمان په سینه
د ښکلو ستورو منځ کې
دا تل په لاره، انتظارې سترګې
له مینې ډکې د نظر شوندې مې
په وربدو وربدو
د سپوږمۍ سپینې ښکلا
اناري سره اننګي
په مینه مینه ښکل کړل
چې په همدې خوندونو
جوتې د خوب راغلې پرې
او په شیبه شیبه کې پټې شولې
سهار چې پاڅیدلم
پاس مې اسمان چې وکوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کې مې ونه لېدې
هغه د ستورو جلګې
هغه ښکلا او هغه سره اننګي
خو زه په دې پوه نه شوم
چې ته مې خيال ته راغلې
جفا مې ياده شوه ستا.
خو نه، زه وپوهيدم:
چې تا ښکلا لرله
او نازېدې په هغې
سپوږمۍ هم ښکلې ده لا
ښايي هغه هم، ناز وکړي نور
او له همدې نه خو زه
پوه شومه چې:
ښکلا د ناز نامه ده
په کې وفا نشته ده.
۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتني فکرونه

جام چې په لاس کې د ساقي ښکاري
زړه کې یادونه لیوني ښکاري
دا خواثر ستا د ښهو دی که نه
زړه په سینه کې چې زخمي ښکاري
د مخ ډیوه دې په ورو ورو لګوه
تیاره محل دی چې سړي ښکاري
چې د راتلو نښې دې نشته اشنا
مینه او ژوند راته پردي ښکاري

چې مې سر تیټ د چا ښایست ته نه شي
سر کې فکرونه پښتني ښکاري
۱۳۶۷/۱۲/۲۹

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقرار

پخوا یوازې ومه
چا پیژندلم هم نه
چا راکتلې هم نه
د چا په خوله هم نه وم
هسې بې نوم وم اشنا
خو چې په تا مین شوم
د هر چا خوله کې شومه
هر چا راته وکتلې
ټولو هم وپېژندم
یوازېتوب نه خلاص شوم
هر څیز رقیب شو راته
او د خپل ځان دښمن شوم
کاشکې چې نه وای مین
کاشکې چا نه پیژندی
او د چا خوله کې نه وای
ځکه د هر چا په زړه
لکه د کاڼو په څېر وورېدم

۱۳٦۸/۱/۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېوني فکرونه

کله د ګلو په ککو خوربږي
سترګې زما چې په اغزو خوربږي
د لیوني زړه لیوني یادونه
په لیونو خپلو نشو خوربږي
اورنګ اورنګ چې شول وختونه راته
ژبه پښتو مې په پښتو خوربږي
خبر دی که خپلو فاصلې ونیوې
مینه مې کله په پردو خوربږي

بدره د ننګ جذبې سرې نه دي لا
زړه په پښتو د پښتنو خوربږي
۱۳٦۸/۲/۲۳

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق بلا

پروت د جنون دي چې په در ليوني
اخلـــي بـلا د عشـق په سـر ليوني
دا چـــې د مينـې محـلـه يـــاد بړي
لـــه هغـــه ځايـــه دي خبـــر ليوني
په کې يادګار د لـيونتوب شي پاتې
چـــې کړي پـه کومه لار ګذر ليوني
عقلمندان دي چې په منځ کې پاتې
نيـــــولې لارې لـــــر او بر ليوني

بـــدره له مينـــې نه غير مه وايه څه
غـــوارې خوښـي که ته د هر ليوني
۱۳۶۸/۴/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تلو خبره

چې مـــې ارمان پرې ژړېدو کې تېر شو
ژوند مـــې د مینې په ترخو کې تېر شـــو
اوس په لیدو دې خوشالي چې کــــــوم
په ما خپګان دې نه لیدو کـــې تېـر شو
شـــيبـــــه خـــــبره وه د تلـــو خــــبره
کال دې اشنا په بـــیا راتلو کې تېر شو

چا کړې ښـــېـــرې چا دعـــاګانې بدره
دا چـــې مـــې نن په حادثو کې تېر شو
۱۳۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احساس قرباني

دا چې ژړلی ژړېدلی نه شم
لکه پخوا زه خندېدلی نه شم
راته کوم چا قسم په تا راکړی
نن چې دې کلي ته درتللی نه شم
دا خو حالاتو مجبور کړی یمه
چې دې په مینه ښکلولی نه شم
هم مې ژړا هم مې خندا هېره ده
چې په هیڅ رنګ درته کتلی نه شم

ده مجبوري او د احساس قرباني
څه چې زه غواړمه ویلی نه شم
۲۸/۴/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند کیسې

لارې د مینــــــې دې کـــړې ښکارې
درته مــــې زړه کې څه ګیلې ښکارې
چـــــــې راتــــه وایې نن سبا راځمه
دا ستـــا رښتیا کومې وعدې ښکارې
خـــــــود بـــه له دې کلې نه کډه کوم
دلته کیســــې د ژونـــــد زړې ښکارې
په پســـــــرلـــې مې باور راغی هله
لاس کې دا ستا چې نن غنچې ښکارې

بــــــــــــــدره پاڅېږه روانېـــږه ژر ژر
د یــــــــــــار له لـــورې اشارې ښکارې
۶۸/۹/۱۰

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجبورۍ خندا

نن بیا مو چې خوارۍ کې د ژوندون منګولې سرې دي
جـانانه مـا او تـــا کـې د سمـون منګـولې سرې دي
رندانو چـــې رندۍ کـــې د یو بل وینـــې کـــړې تویې
پـــه دې کـــې د ساقـــي او د جنون منګولې سرې دي
خنـــدا د مجبـــورۍ ده هیـــڅ هوس په دې کې نه شته
زمـــوږه مجبـــورۍ کـــې د بیلتون منګولې سرې دي
ګلـــونـــو تـــه د مینـــې چـــې اورونـــه ورتـــه کېږي
بس دلتـــه د حـا لاتـو د بدلون منګولـــــې سرې دي

یـــوې ادا د یـــار تـــه چـــې هـم مړ دی هم ژوندی دی
پـــه مینـــه کـــې د بدرد خپل یون منګولې سرې دي
۱/۹/۲۸5

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وینو رنګ

چې پرون مو په لیمو ځای ورکولو
نن نازونه خامخا به ورړو د ښکلو

چې سپېره تقدیر بدل کړو ترینه خلاص شو
څه به وکړو مونږ بغیر له ځان وژلو

کوربانه چې په مېلمه مېلمه کې وشول
څه کانې په مونږ نه کړې نابللو

چې موسکا باندې یې لاړو په ویر سر شو
اوس مو لاره ترینه نشته د وتلو

چې خاطر مو د ساقي په کې ونه کړ
له محفل نه یو ملګرو د شړلو

هومره زړه نیولي تللیو باندې نه یو
څومره ویر کې چې اخته یو د راغلو

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

یــــو د بل په وینو رنګ یو د اسپ وخت دی
ځای مو نشتــه هیـــــخ د ناستې پاڅېدلو

چې ګــــودر ته دې پـــه ورو ییې ملا کړېږي
دا منګـــــي دي پـــه رښتیــــــا د ماتولو
۱۳۶۹/۲/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقرار

موږ د ښکلا مینان
ټول سره یو ځای و له ډېرې پخوا
زموږه مینه وه له یو بل سره
خو لیوني رقیبان
زموږ د مینې له ډار
زموږ د مینې د ښکلا سیمه کې
تخم د شک او د کینې وکاره
موږ یې د شک او د کینې په اور کې وسېځولو
موږ ه یې تږي کړو په زوره یو د بل وینو ته
***
خو له مودونه وروسته، چې سره ترغاړې وتو
د هغو سره په وینو سره لاسونه
زموږ د مینې مینه ناک ګریوان ته وغځېدل
غواړي زموږه دا شلېدلی ګریوان
لا پسې نورو شلوي
لا پسې نور...
۱۳۶۸/۳/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وفا جامې

پـه اور د مینـې چـې سـتي بـه نـه یـو
مـورږ لیـونـي څـه لیوني بـه نـه یـو
زمـــورږ خپـګــان رقيبـه هسې نـه دی
چې لـــه یو بل ځنـــې راضي بـه نـه یـو
چې د وفـا جـامې پـه ځان کړي ښکلې
ملګرو مورږ چېــرې ژونـدي بـه نـه یـو
قــدم بــه اخــلو د ثـــواب پـه لاره
خــو لـــه ګنـــاه ځنـې خالي بـه نـه یـو

بـدره رقیـب سـره کـه غـاړې وتـو
خـو پښتـانـه او میـرړني بـه نـه یـو
۶۹/۲/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېره او کرکه

مورچې واره وو
له تيارې او تورې شپې وېرېدو
ځانله يوازې کور نه، نه وتلو
بس وېرېدلو هسې، شپې نه مو کرکه کېده
***
غوښتل مو دا چې: دغه شپه هم ورځ واى
خو هسې کله کېده او هسې کله وشو
***
زموږ په دې وېره وه
چې په تيارو کې د شپې
کوم څه خوړونکي او داړونکې بلا ګانې وځي
لکه شيشکه، لکه مار او لکه تور وهمونه
او موږ په دې وېرېدو ، شپې نه مو کرکه کېده.
خو اوس
اوس مو له شپې سره له ورځې نه هم کرکه کېږي
هسې په ځان وېرېږو
او په ډاډه زړه ګرځېدلى نه شو.
۶۹/۲/۴

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې لاره

خدايه چې مينه کې سړه خو نه ده
لويه خبره ده وړه خو نه ده
زړګيه ! څه داسې خپه خپه يې
د يار له خولې وتلې نه خو نه ده
رقيب دې دا نيسي په نورو به ځم
لاره د مينې څه يوه خو نه ده
ساقي غوسه دې تسبې مه اړوه
ده ميخانه شيخه کعبه خو نه ده

چې سترګې بدره لارې څارې
نن د راتلو يې څه نيته خو نه ده؟
۶۹/۸/۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

متکور زړه

دغــه منــم خا مخـا زور او به شي
د چــا پــه غــم زړه متکور او به شي
ليوني خدای نه به نور څه وغواړي
چې ورته ښکلي په هر لور او به شي
زړګيــه راشــه چــې بــس دا ومنـو
د مينې سترګو ته سور اور او به شي
مالت د مرګ او د سرو وينو چې وي
د يـــو خطا کې به خود نور او به شي

ښايست چې ناز شي او په تله کې شي
بـــــدره د زړه د مينې شور او به شي
۱۳۷۰/۱/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښېرو بام

ګــورئ زمــا که شوله ساه په ختو
بــام د ښېــرو ته ده لیــلا په خــتو
لـــه ډ ېـــرې میني که له کبره دي دا
چــې مــې په ولو ده اشـــنا په ختو
هـــــره شیــبه مــې دې ژړا ژړا شــي
که شي له خولې نه مې خندا په ختو
رڼا د دوه ســــترګــو يې مله ده زما
لمره چــې نه یمــــه دا ستا په ختو

بدره څــه تنــدر خــو به نه رالوېږي
که مې له خولې نه شي رښتيا په ختو
۱۳۷۰/۹/۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه خدایه

لویه خدایه لویه خدایه
ستا په مینه په هر ځایه
غرولاړ دی درناوی کې
ټولې ژوي په زارۍ کې

***

ټول په مینه عبادت کې
یو همیش دې په طاعت کې
دا تورتم زموږ رڼا کړه
دا ژړا زموږ خندا کړه
زړه له زړه سره اشنا کړه
بې مینې ورکه دنیا کړه
چې شو مینه سر تا پایه
لویه خدایه لویه خدایه

****

چې خوشاله مو شي زړونه
ترې په تله شي ټول غمونه
د وفا نوم را ژوندی کړه
دا خزان مو پسرلی کړه
چې په کار تل د یو بل شو

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پردي نور سره خپل شو
چې پردي نور له ژړا شو
ځو مره ښه چې په خندا شو
ای په هر څه کې نمایه
لویه خدایه، لویه خدایه

****

په یوه لار چې په تله شو
یوه ژبه یوه خوله شو
چې شو یو د بل په مینه
توې د یو بل، نه کړو وینه
کلکې خپلې ارادې کړو
زړه نه لرې وسوسې کړو
چې منزل ته په مزل شو
یو د بل د لارې مل شو
داسې وخت راولې خدایه
لویه خدایه لویه خدایه

ګردیز- پکتیا

۷۰/۴-۱۸/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د توبو په زير و بم کې

غوټۍ ګل شوله د مينې د ښکلا نغمه خوره شوه
د پسرلي د وير په شونډو د خندا نغمه خوره شوه
ښتنه مې شوله مينه د هوس زنځير يې مات کړ
دنيا رنګه د بلا شوه د حيا نغمه خوره شوه
د زاهد ساقي په مينه شوه رندانو ته لار سپينه
د توبو په زيرا و بم کې د ګناه نغمه خوره شوه
وېدې سترګې شولې ويښې د ښو پنجرې ماتې
تورتمونو د سکوت کې د رڼا نغمه خوره شوه

د راتلو په يو خبر يې چې مينه لاره څارم
بدره ما ته له پيغوره د پناه نغمه خوره شوه
۱۳۷۰/۱۲/۲۲

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوکه

راتــــه چـــې ښکاري چې دنیا دوکه کړم
مینـــــې دوکـــــه کړمـــــه اشنـــا دوکه کړم
چې د رخسار په رنګ یې رنګ نه شومه
خپلــو فکـــرونـــو هـــم سودا دوکه کړم
وایـــه دوکـــو کـــــــې دې دا ثـــــه لیدلي
لکـــه پـــرون دې چـــې نن بیا دوکه کړم
د هیلـــو بـــڼ کـــه مـــې تالا ترغـــه شو
د لیـــونـــو ستـــرګـــو ښکلا دوکه کړم

د چـــا جفـــا نـــه چـــې ګیلـــه نـــه کوم
بـــدره خـــو زه خپلـــې وفـــا دوکه کړم
۱۳۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله

ته چې وایې
لکه ما دې خدای حیران کړه
لږ څه ځیر شه
لږ دې زړه نه تپوس وکړه
چې څه وایې
بیا چې هر څه دې زړه غوښته
راته وایه
هان تر سپوږمۍ
هان تر ستغو.
لږ څه ځیر شه
لږ دې زړه نه تپوس وکړه
ځکه زړه دې دی

هنداره زما د مینې
۱۳۷۰ مرغومی

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوراو وينې

لکه زما د چا په غم لمبه شو
وطن مې وسو هر قدم لمبه شو
سيوری د شوم نظر چمن کې خور شو
د ګل په شونډو کې شبنم لمبه شو
د اوراو وينو کيسې ختمې نه شوې
ژبه لمبه شوله قلم لمبه شو
ځای د څه ښنلو او توبو مو نشته
هم ميخانه او هم حرم لمبه شو

بدره مجبور کړې په سر چې ښکارو
زموږه کلی زموږ چم لمبه شو
۱۳۷۱/۹/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شعور رڼا

څــو خــو کـه مجبـور او کــه مختار یمه
شیـخــه ســم روان پخپـــلــه لار یمه
څـه دي وي چي ستا په پلونو تلل وکړم
دا لکــه دا ستــا چـــي په اختیـار یمه
لا چـــي څـه امیـد مــي تخنـوي زړګی
لا خــو د هغـــي ښکلـي پــه کـــار یمه
څنګــه میخـانـي نه لاس پــه سر شمه
لا خــو چـي خمــار یمــه هوښیـار یمه

تلــه د خپــل شعــور چـي په رڼا کوي
بــدره د هغـــو یــارانــو یـار یمه
۱۳۷۱/۱۱/۱۴

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امید ننبه

زه چې وايمه د ګل مينه په غيبږ کې د اغزي ده
رقيب وايي ليونتوب دی فلسفه د ليوني ده
د اميد مينه چې نه تخنوي زړونه مو په مينه
داسې وخت داسې شيبې دي د نفرت مهرباني ده
اسمعيله ستا په غاړه به چړې بيا بيا تيرېږي
له زړګي نه د خليل چې پاک الله سره دوستي ده
مينه مينه ای زړګيه څه په مينه مينه وايې
چې په مينه پابندي ده بې وسۍ کې زنده ګي ده

چې په ضد د زمانې د رواياتو يمه بدره
چېرته ننبه د غم وېرونو انګازه چېرته مستي ده
۱۳۷۱/۱۲/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خیال سکوت

جانانه وایه چې خپه په څه شوې
ښکېل د شوګیر څڅوکې شپه په څه شوې
چې زړه را ښکون نه د بلنې وایې
بیا په راتلو زما غوسه په څه شوې
چې ستړې روح دې زما ستړې غوښته
د خیال سکوت کې مې نغمه په څه شوې
چې په بیان مې پابندي لګوې
نو مې په زړه کې ولوله په څه شوې

پېرزو دې نه وه چې اغزي په بدر
مینې سبا په څه ورمه په څه شوې
۱۳۷۲/۱/۱۰

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل غمیزه

کړ مرګي په تندي ښکل
شو په وینو ســور کابل
سترګې ډکې شوې له نم
سور پـــه وینـــو هر قدم
شو د ناستې پاڅــې غم
لاس ګریوان کې د یو بل
شو پـــه وینو سور کابل

***

د وېـــرونـــو انګـــازې
لـــورا لـــورې راخـــورې
شـــوې د مینـــې جنـــازې
د هـــر چـــا پـــه اوږه خپل
شـــو پـــه وینو سور کابل

***

پښـــه نیـــولـــې پسرلي
هـــر قـــدم ځوزاو اغـــزي
لیـــونتـــوب د لیـــوني
پـــه ارمـــان ارمان د ګل
شـــو په وینو سور کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

ژبـــه نـــه شـــوه پـــه یوه
ښـــه خــــوږه شوله ترخه
سمـــه لار شـــوه تاتـــره
د یـــو خـــو پـــه تغافـل
شـــو پـه وینو سور کابل

***

هـــره لار هـــره کـــوخه
شـــولـــه تنـــګه او تیاره
لاخـــو شـــاړه او سپېـره
د پېـــړی پـــه تـکامـــل
شـــو پـه وینو سور کابل

***

ډیوه مړه شـــوه د خنـــدا
ستـــرګـــو ونیـــوه ژړا
هـــر اشنـــا شـــو نا اشنا
ټـــول خـــویـــونه د مغل
شـــو په وینـــو سور کابل

۱۳۷۱/۱۲/۱۴

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

مست لېوني

چې هم په سترګو هم په زړه غولېږي
مســـت لیونـــي په یو کاتـــه غولېږي
چـــې غـولېدلي دي په هوښـه کې لا
په بد مستئ کــې به څه نه غـولېږي
خپلــو ملګــرو تـــه چـــې ګـورمه زه
له خپل اخلاصه په خپل مله غولېږي
چـــې د ژوندون پـــه مـــزه نه پوهېږي
هـــم په خـــوا ږه هـم په تـرخه غولېږي

بــــدره د ښکلـو په خندا چې مړه دي
دا سې ســاده خـــو ډېر ساده غولېږي
۱۳۷۲/۹/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناهونه - ثوابونه

د ښایست د سـپرلي مینه کې ګلونو ته شوو سترګې
چې پرې ځان او زړګی وسوځو اورونو ته شوو سترګې
شو ګیرونه مو شو ګېـرځپلې سترګې لا په لار کړې
د خـوبونو محلـونو کې خوبونو ته شوو سترګې
ګناهـونه ثوابي شـول، ثوابـونـه ګنا هـونـه
ځـکه مینـه د جنت کې دوزخـونو تـه شوو سترګې
جل وهلې ځواني ګرځو جـل وهـلو ورځـو شپو کې
چې پیدا مینه د ژوند کـړو امیدونو ته شـوو سترګې

دژونـد نـاوې شوه سـرتوره د امـید مرۍ خپه ده
د خندا موسم کې بدره چې مرګونو ته شوو سترګې
۱۳۷۳/۷/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نظر تار

چې مې نظر په کومه لار خوړېږي
قدم قدم په پلو د یار خوړېږي
شیخه د مرګ ګواښ راته ثله کوي
زما خو سر په سر د دار خوړېږي
د وینو سره زما د زړه جانانه
د اننګیو دې په قار خوړېږي
دا چې په وار کې بې واری، واخیستم
خو بې واري مې هم په وار خوړېږي
عشقه زما د امیدونو سترګې
ستا د نظر په هر یو تار خوړېږي
سترګې د یار به شي خوږې په بدر
چې یې مړې سترګې په ما خوار خوړېږي
۱۳۷۳/۳/۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخه غمونه

ستړکې چې ډکې شـــي نو ووربږي
وريځې چې نه وي اسمان نه وربږي
ښکاري اشنا راته وي ستــرګې د چا
چې تــاوده زړونه مو ســاړه وربږي
چــې د يــادونـــو دې خــوارږه وروي
خيــر که غمونــه دې ترخــه وربږي
وې دې چې څوک ليوني نشــته پکې
پــه دې کــوڅــه کــاڼې په څه وربږي

چـــــې زه به هـــم ورلره يــاد يم که نه
هغــــــه خــو هر دم مــې په زړه وربږي
۱۳۷۴/۸/۳

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه خیر کړې

غم مې بیا غم د جانان دی خدایه خیر کړې
غریو نیولی مې ارمان دی خدایه خیر کړې
د وطـن مـې د ولـس پـه ژړا سـر یـم
د مـرګونو پرې بـاران دی خدایه خیر کړې
د وجـدان مـری خـپه عـاطـفـه مـړه ده
د انسان دښمن انسـان دی خدایه خیر کړې
بـلا لارې تـه چـې دا ســې په ځیر ګوري
د ارمـان کاروان روان دی خدایه خیر کړې

تقـاضـــا د زمـانـې نـه پـوره کـیږي
بدر ځان پـورې حیران دی خدایه خیـر کړې
۱۳۷۴/۸/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیم نظر

هـــره ساه چې ساه ختلې زنده ګي ده
غـــریبي ده مجـبوري ده پـریشاني ده
هـــره ورځ د نهیـلیـــو مـاتمـــونـــه
هـــره ورځ د ارمـــانـونو قـربـاني ده
دا چې نیم نظر یې خور اوربل ته ګورم
دا زما د یار په غـم کـې سـتـومـاني ده
لیوني دې خپل نظـر په کاڼو مات کړي
چې تـرڅـــو د رقیبـانـو واکمنـي ده

چـې کوڅه په کوڅه خیر غواړمه ګرځم
بـــدره مینـه کې مـې برخه ګدایي ده
۱۳۷۳/۹/۱۴

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

ته غونچه د ګلو یې
زه په نغمو روږد بلبل
ته د خندا شین سپرلی
زه له رنګه ژېړ خزان
ته یې ازانګه د عشق
زه په دار د حق منصور
ته یې د رڼا ښکالو
زه تورتم خوړلی یم
ته ښکلې هنداره یې
زه درکې ځان ګورمه
۱۳۷۴/۱۲/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکه ګناه

بیا دې ژړېږمه وعدې په سلګو
بیا له ماښامه دې ږ بوې په سلګو
یاران په ځان پورې یې چېرته اخلي
که نه اشنا دې یارانې په سلګو
بیا دې زما په اوښکو وخندلې
بیا راستنې دې کړې جرګې په سلګو
ګوره زګېروي زما د پاکې ګناه
خولې ته مې راغللې توبې په سلګو

سهار ماښام چې په کې ورک وم بدره
هغه د مینې دې کوڅې په سلګو
۱۳۷۴/۲/۹

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

خودي او بې خودي

عشقه حیران یمه چې څه کومه
هغه کومه چې یې نه کومه
ژاړي او خاندي ستا یادونه اشنا
هر څه کې خوښه چې د زړه کومه
د مخ او زلفو دې چې یاد کې شمه
کله رڼا کله تیاره کومه
ارمانه بیا دې قرباني ورکوم
څوا سویلي ساړه ساړه کومه

بدره یو غږ چې د خودی شومه زه
د بې خودۍ په لاره تله کومه
۱۳۷۳/۱۲/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ کلی

هلته چې ځوک
چېرې زما په کیسې
غوږ نه باسي
***
هلته چې ځوک
د چا خبره نه اوري
***
هلته چې سرې د شپې منګولې
د سهار په ستوني
ښخې دي لا
***
هلته چې ښکلې ستورې
خلک په کاڼو ولي
***
هلته چې مینې ته د عشق په سترګو
نه ګوري ځوک
هغه،
هغه زموږ کلی دی
چې رقیبان په کې واکداره دي لا.
۱۳۷۴/۷/۱۲

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسکي ګلونه

ټول موسمونه پســــــــــــرلي غواړمه
د ژوند ګلونـــــه دې موسکي غواړمه

د غمــو سترګــې درته مــه شه چېرې
تل دې په ژونـد کې خوشالي غواړمه

چې وي بــې خــوده د خودۍ په مینه
ژوندي همــــــــداسې لیوني غــواړمه

د پــیغــلـــې مینـــې د وربــل ګلــونه
د احســاســـاتو مـــې زلمي غواړمه

یون چې تکـــــل وي د ازمون په لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میــــړني قـــــــام میړني غواړمه

د نن له ســــــترګو نه اورونـــــه اوري
ګلونـــــــه سترګې پــــروني غواړمه

د قام چـــې مات انځور پیـــوند کړي زما
روښان، احمد ، خوشال، هجري غواړمه
۷۴/۸/۲۴

نوموته:

یون، محمد اسمعیل یون

ازمون، لعل پاچا ازمون

تکل، احمد تکل

انځور، زرین انځور

پیوند ، علي ګل پیوند

روښان، بایزید روښان

احمد ، احمد شاه بابا

خوشال، خوشال خان بابا

هجري، اشرف خان ختک

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنهکاره توبې

په ما وربړي چې بې واره توبې
دا مې وتلې له اختیاره توبې
د ګناهونو که لوربړي په ما
راځي مې خولې ته ګنهکاره توبې
لا ګناهونه وار له واره راځي
لا چې کومه وار له واره توبې
ګناه مې ستا په شانتې نه ده کړې
چې دي کومه تر سهاره توبې
شیخه له ما هم ګناهکاره ښکاري
اورمه ستا چې دا بیشماره توبې

عشقه دا ستا چې ګنهکاریم بدر
خود به کومه ستا لپاره توبې
۱۳/۹/۱۳۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچۍ مينه

نه پرېدي خوښۍ نه مې غمونو ته
فکــر يمــه وړی ستــا يادونــو ته
ګل يې خــو چې ګل د رلره نه وايم
اوروورتــه کوي دلتــــه ګلونو ته
مخ ګلاب، نظر ګلاب، ادا ګلاب
خوب ګورم چې دانګمه اورونو ته
عشق چې نظر نه شي سپيلنو په نوم
اچـــو اورونـــــه خپلو زړونو ته

چارې اخـــر وکړلې کوچۍ مينې
وختمــه بــدره جګـــو غرونو ته
۱۳۷۲/۵/۳۰

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

جدا جدا غمونه

کلــه پــه جـام او پــه مینـا ماتېږي
زما چې تنده پـه یاد ستا ماتېږي
لکـه غـمـونـه چــې جدا جدا وي
هسـې مـــې زړه جـدا جدا ماتېږي
د لـیـونـو زور کــــه دې ولـیـدلـو
رقیبه ســـر دې خـامـخا ماتېږي
یـــو زما زړه دی چې هر دم ماتېږي
یـو ستا وعدې چې هر سبا ماتېږي

بدره چې نه یـې سوځي سترګې په ما
زمـــــا نظـر پــر هغــې لا ماتېږي
۲۰/۱/۱۳۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان زړه

لیــوني زړه چې اور په ځــان اخستی
چــا ورتــه نــوم بیا د جانان اخستی
ژوند کې چې ماته دی ډېر ګران لوېدلی
هغــه زړه تــا رانــــه ارزان اخستــی
رقیـــــب په عشق بولي د مرګ سند ره
لاس کـــــې يې تيغ سره قران اخستی
زړه مې افغان دی هیڅ کاته يې نه زده
خــو يې قلنګ د عشق په ځان اخستی

د خپـــــــلې ورکې د کاروان په مینه
بـــدرقـــدم په بیــــابان اخستی
۱۳۷۷/۲/۲۵

SAMSOOR.COM

د ملیار کاکړ د واده په موقع

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو نيزاره شور

شپه ده د خوندونو په خوندونو کې
جوړه زلزلـــه ده پـــه دوه زړونو کې
ساتـو بـــــه اباـدې د نــوا کوځې
يـــــو نيزاره شور لرو سرونو کې
ژاړو د ارمـان مـــــــاتـو منګيو ته
مـــــورږ د خپل نظر په ګودرونو کې
وختـــه ستا له ميني مورږ تاو کړي دي
زړونـــــــه د زخمونو په شالونو کې

بـــــــدر زه مليـار د هغـه بـړ يمه
خانـــــدي يې جانان چې په ګلونو کې
۱۵/۸/۱۳۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینې تنده

د عشق په شین فصل مې وورې د لوګرو باران
د خنـــدا پیغلې راته قتلې کړې د زغرو باران

پــه ورانــه غاړه د ګــودر ماتو بنګړو ته ژاړم
ورکــوم للمې د زړګـــي ته د ســنــدرو باران

ښکلې ده هســـې کبـــرجنه که نه ښه پوهېږي
چې د غوږو کچکول کې غــواړم د خبرو باران

غواړي دورې ستا د کوڅې خوالوتلې نه شي
د خیال کوتـرې مـــې وهـــلې پـــه وزرو باران

دا لیونـــي زړونــه زمــوږ د مینــې تنده وژني
خدایه پر کلي مو رامات کـــړې د دلبرو بـاران
د تورو سترګو یو وار هم پـه زړونو نه لګېږي
د غرونو لاره ورکه کـــــړې د ګورګورو بـاران

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انتظار د لارې پېغـــلې تـــه د هـــار په مينه
د سترګو سيند مې بهوم د مـــــرغلرو بـــاران

سم دم په ډاګ کې زما د خيال په ښا پېريو بدره
ووري همدا شېبه شېبه د جـــــادوګرو بـــاران
1377.8.20

پېغله نوا

لکـــه ګيلې چـــې لـــه جانانه راځي
خولې تـه سلګۍ مې له ارمانه راځي
د مـــينې شمـس بيا ځورولی دی چا
خوږمـــن اواز دی له ملتـــانـــه راځي
حســـن ارزان نه دی هـر چاته نه دی
ګرانـه سودا لاس ته پـه ګرانه راځي
زلمـی شپونکی ارمـان له ځانه وتی
پېغـــلـه نـوا لـه نيستـانـه راځي

بـــدره چـــې خـپر يې د مـينې ګنم
بـاران د کـاـهــو لـه اسمـانه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپونکی ارمان

غم غـم د زړه تارو ، نه مې سندرې دي راتاوې
له بـــامه د خيـــالونو مـــې كـوتـرې دي راتاوې
دا هسې ليونی او سترګې سترګې چې ورګورم
نــن ډېره مــوده پــس رانـــه دلبـــرې دي راتاوې
نوا نوا له سوزه چې شپونکی ارمـان مې ژاړي
د مـــينې له نيـــزارو نـه لـوګـرې دي راتاوې
جـــادو هغـه جـادو ده او هماغه جادوګر دي
خو-بيـلې نـوې نـــوې څـه منتـرې دي راتاوې

جانان راتـه وې بـــدره چې نږدې رالره نه شې
شاعـــر يې ستا سينې څنې بخرې دي راتاوې
۷۷/۷/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حیا مینه

یو ستړی خیال یمه د مه غواړمه
د زلفو غېږه کې دې شپه غواړمه
چې په کې وړمه د نظر بېړۍ مې
د سترګو سیند څپه څپه غواړمه
له شوره غلی چې د رګو رمه دا
د حیا مینه کې بوسه غواړمه
چې پر هرونو سره مینه کوم
زړه څراغان ډیوه ډیوه غواړمه

د مینې اوره څه لمبې ښکلوه
د ښکلا مخ خوله خوله غواړمه
۱۳۷۷/۱۰/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بې نيازۍ دم

کلي د شور دی دا منمه خو څوک ساز نه کوي
د زړه تارونه مې اوده دي هيڅ اواز نه کوي
رېبار رښتني دی منم خو ملامت هم نه يم
جانانه هر چا ته خبره څوک د راز نه کوي
يو خوا ملا په موړه دم د بې نيازۍ کړی دی
بل خوا له ښکلو ادا هېره ده او ناز نه کوي
انداز د سترګو دې د باز بدل بدل غوندې دی
د زړه کوترې مو چې غلې دي پرواز نه کوي

خوارېږه له زړه رڼا چې سترګو نه دې اخلي اشنا
د بدر داسې کلام څنګه به اعجاز نه کوي
۱۳۷۷/۸/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان

دا د موسی سترګو مې نور دی جانان
د مینـې هغـه کـوه طـور دی جانـان
پـه تـار کـې پټ د شومه دم د ستار
یـو غلی شور غــلی سرور دی جانان
زړګی یـې شته خو مینه نـه شي کوی
ما ته راګـوري نه، مجـبور دی جانان
داسې تـرور وختـونو واخیست پسې
چـې اوس لـه ځانه هم ترور دی جانان

د زړه د بـاغ د ګلـو پاڼـو کــې شین
لکه پر هــر پـه وینـو ســور دی جانان
۷۷/۹/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوب ډولۍ

سندریزه تنهایي ده د ژړا په تال سندره
را یاد پرېږي مې جانانه ستا یوه یوه خبره
دا به څه شي که مې زړه او سترګې اوښکې وینې راشي
د ښامارو زلفو مینه غواړي لال او مرغلره
هره شپه د خوب ډولۍ کې مې د سترګو ویده کېږي
یوه پیغله ښاپېرۍ د قاف له غرونو سترګوره
چې هغه دنیا بې حورې او غلمان نه غواړې شیخه
اخر دا دنیا هم کېږي بې یارۍ او بې دلبره؟

چې ګودر دی خو په ښکلو بې له ښکلو ګودر نه دی
بدره مالیدلي نه دي مین زړونه بې پرهره
۱۳۷۷/۱۰/۲۷

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړګي لپه

د ځوانۍ خمار زما که سرګردان او تار په تار دی
ستا سینه د مشکو ښار دی د لونګو جوړ بازار دی
د زړګي په لپه وینې هر پر هر ته ورکومه
ارمان مخ را اړولی وایي پار نن د بهار دی
شیخه راشه چې له زړه نه داسې روغه سره وکړو
زه پر تا چې نه لګیږم نو دا ستا پر ما څه کار دی
پاړوګره د عشق غواړي چې د مینې هوده وایي
بیا چیچیلی کوم مین د زړه په سر د خمار مار دی

د نوا پیغلې له مینې ورنه تاوې دي چې بدره
جوړ ارمان زما شپونکی دی دا زړګی زما نیزار دی
۱۳۷۷/۱۰/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غزلتورو آئینې

عشـق د زمرو سترګو، چې هغه لیونۍ نه لري
زمـوږ د زړونو دښتې شاړې دي هوسۍ نه لري
شپیلۍ شپیلۍ چې په کې پیغله نوا ونغاړمه
کوچۍ سنـدره مې د درد هغـه کېږدۍ نه لري
چې هرسهار ویده ویښېږي، ویده خوب ته ورځي
د کلـي دنګ چنارونه مو مَرغۍ نه لري
لا خـو مو مینـه ده په عشـق کې پرهرونو سره
چـا وې زموږ د هـیلـو نـاوې چې ډولۍ نه لري
د غـزلتـــورو ائینـي به در تـه مـخې تـه ږدي
په تـامیـن دا ستـا شـاعـر بلـه ډالۍ نـه لـري
دیو د شوګیر زموږ د سترګو په شپو سیوری کړی
بـدره مودو نـه مــو خوبـونـه ښاپېرۍ نه لري
۱۳۷۷/۱۲/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سترګو مینه

زما خبرې نه زده
ما خو ویل د رته چې
همدا په سترګو سترګو
ښه ده پوهېږو سره
ګوره !
خپه شوې اخر
چېرته د خولې خبرې
او چېرته عشق
د سترګو
۱۳۷۸/۱/۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوښکو رمې

خولې ته مو نــــه راځـي د خوند خــبره
له مـــــورږه هېـــــــره ده د ژوند خــبره
پــه لیـــــونو زړونـــــو مـو اورلګـوي
جنګ کـــې د سترګـو د اوربند خــبره
سترګـې مې پیايي چې د اوښـکو رمـې
کېږدۍ کې نغښتـې د ايلـبند خـــــبره
نه زمـــــورږ زړونه شـــول په غشو مـاړه
نه ښکـــــلو زده کــړه د پیوند خبره

ملالۍ هـــــیلې مـــو په زړو کې بـدره
په مینه نغـــــــاړي د میـــوند خبره
۱۳۷۸/۲/۱

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سترګو شپول

له زړه نه سترګو سره مینه لرم
وړوکي کلي کې ښارونه ساتم
د انتظار د غشو نښه دې کړم
د شوګېر شپول کې چې خوبونه ساتم
لا چې راځې ته د اغزو موسم کې
لا به په ستر ګو کې ګلونه ساتم
د اوښکو مخ وروړم ګردونو ته چې
زه په دې لارو کې پلونه ساتم

دا خو چې ښکلیه څراغان دې خوښ دي
له مینې زړه کې پرهرونه ساتم
۷۸/۲/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه؟!

وخته پوښتنه لرم
پښه نيولی شه لږ!
خيال مو د سرو شونډو کې
د زړګي رنګ وبايله
هغه د جل موسم کې
للمي ارمان ته مو خپل
باران د وينو ورکړ
اوس چې د تورو زلفو
دام کې ګېر يو
وايه چې څه به کېږي؟
۱۳۷۸/۳/۱۸

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

ژوند
یو سیند دی
کله مست، د ځپو ورا سره روان وي.
داسې مست چې لبرېزی نه
ساحل هم په مخه اخلي.
کله داسې شان وي تږی
چې له تندې خپل لاسونه
په دعا وي پورته کړی
د مستۍ او
شور
باران
ته
۱۳۷۲/۵/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټه

عشقه بلا دې وا خلم
مینه کې تا سره مې ځان ورک کړی
راته جانان ورک شوی
درنه یې پټه غواړم
***
کله ماشوم چې وم
ورکوټی ومه
چې به یوازې چېرته وخوځېدم
په نیمه لار به لار شوه ورکه رانه
او ځای پرځای به کرار ودرېدم
چې به مې ولیدل څوک
ورو ورو لمن مې د ژړا نیوله
د چا به زړه را باندې وسوځېده
راته یې لار ښودله
***
کله چې کتې مې د خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلا څنګ لوېږي
د پرې ته و ویست
تر نیمي شپې د پانو شور کې ورک وم
او د همدغه شور په لېچو به مې
سر ا ېښو د ه
یو وخت
خوبونه را نه
د چا د دوه سترګو
د یاد کوترې
وزرو کې و نغاړل
دورې دورې شوې
او د هسک غېږه کې
پناه شوې رانه
چې بیا مې و نه لیدل
ما مې خوبونو پسې
ان په تورتم کې د شپې
د شوګیرونو لاره ونیوله
له ګړنګونو پسې واوښتلم
او بیا به سترې ستومان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کټ ته د خوب په مینه وختلم

****

همهغو شپو ورځو کې
یاد کې د هغو سترګو
له ځانه ورک شوم پسې
داسې یو ورک
چې به ویلې مې دا
چې زه هم شته یم که نه؟
خو کله کله به د درد لاسونه
په پرهرو به مې راتېر شول د زړه
او په یو داسې غږ یې
زما د زړه غوږونه ونازل
بدره زه مینه یمه، مینه یمه

***

له هغې شپې نه وروسته
هغه
غږ
هره
شیبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړه مې لاس تېروي
او زه اوس هره شيبه
په هغه غږ پسې يم
ورپسې ورک يمه زه
داسې يو ورک چې ورک په ورکو کې يم

***

سلام، سلام
عشقه، سلام مې پرتا
درځنې پټه غواړم
راته مې ځان وښايه
راته جانان وښايه
۱۳۷۸/۹/۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سترګو تږی سیند

عشقه راوغځوه لاس د بنګړو خوب ویني
د زړه تارونه مې ویده د نغمو خوب ویني
زما د سترګو په هندارو د باران تصویر ته
مړاوی ګلاب مې د زړګي د وږمو خوب ویني
زما ملت ته ازمیښت کې د خلیل دعا ده
د وخت په لیچو هره شپه د لمبو خوب ویني
چې هره شپه یې په هندارو ځلېدل خوبونه
اوس مې د سترګو تږی سیند داوبو خوب ویني

مینه کې بدر لاس نیولی د عارفو او ښکو
دې مریدی کې هره شپه د تسبو خوب ویني
۱۳۷۸/۳/۲۷

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه

مینه کوو له هر انسانه سره
موړه ژوندي یو له دې شانه سره
هره شپه د مینې ذکر کوم
زه چې غرېږمه له ځانه سره
زه خو ظالم ورته له نازه وایم
ستم خو نه ښايي جانانه سره؟
لار د سندرو د بازار لټوي
کچکول د روح مې له ارمانه سره
زه يې دې سرو سترګو ته کېنولم
ياري د اوښکو له ګريوانه سره
جانانه بدر دې ياد پرېم که نه
تا يادوم جان او قربانه سره
۱۳۷۹/۷/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې او رانجه

تا خو وې راځه چې نور
د سترګو لار
بدله کړو
داسې چې وه ګرانې
بیا دې ولې
سترګې تورې کړې؟

۷۹/۸/۱

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارمان رضا

چې دې خندا ته عشقه ما کړې ده
وو ایـــــه دا ســـې ژړا چا کړې ده
مـــا دې ژړا تـــــه ژړولــــــې ژړا
تـــا مې ژړا باندې خندا کړې ده
مه راته ګوره بیا په غبرګو سترګو
ســــــاده کتـــــلو دې بلا کړې ده
زه پسې ځم ساقي چې تښتي رانه
ښکـــاري چې څه بلا ملا کړې ده
ستا په انکار چې هم درځم کوڅې ته
مـــا د ارمان خپله رضـــــا کړې ده
شیخـــــه نو دا سمې له کومه شولې
بدر چـــې ټـــول عمر خطا کړې ده
۱۳۷۳/۱/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومه مینه

ستر گـــو نیولی چې د نم لاس دی
د زړه په تار مې ایښی غم لاس دی
مینه کې عشق او جانان ګرم نه ګڼم
دې کـــې زما د زړګي هم لاس دی
دا یـــو درواغ به درته هم وو ایم
چـــې د رښتیا راسره سم لاس دی
چې د ولس د لاس ښکلا یې جام دی
پـــر دې مالت تېر کړی جم لاس دی
چې رسېدلی دی د وخت ګریوان ته
دې کـــې یو ازې زما ګرم لاس دی
بــــدره ماشومه مینه ژاړي راته
جـــانان پټ کړی ترینه مم لاس دی
۱۳۷۸/۳/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوب کوترې

سترګو ته نه راځي د خوب کوترې
برند په بڼو د شوګیر باز ناست دی

د چا به مینه وي له ښکلو سره
زما په زړه د ښکلو ناز ناست دی

جانان په دې خپه چې غږ نه کوم
زما له چیغو نه اواز ناست دی

ساز مې د ژوند د ښکلا جوړ دی چې پرې
داسې مې عشق په زړګي ساز ناست دی

چې خوشالي مخ په سالو کې نغاړي
په زړګي پټ د غم غماز ناست دی

لاس په دعا د مینې رب ته بدر
ستا د ښایست پر جای نماز ناست دی
۱۳۷۸/۳/۳

لعل پاچا ازمون ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه خواله

اشنا پوهېږې به خپه يمه ډېر
هغې شېبې راته زړګی خوړلی

***

دلته کې هر څه د رواج قرباني
بس تش نامه د محبت پاتې ده
دلته کې مینه هم د زور خبره
دا کمزوري لا په قوت پاتې ده

***

دلته لا مور په ته او زه یادیږو
دلته ارمان د فرید سر خوړلی
دلته کې وینه لا په وینه مینځې
افغان خو مړګ ته د افغان وتلی

***

ستا د خندا دې ائینه کې اشنا
زه یې ښه ګورم د ژړا انځور دی
خواری خوړلی چې یې نه پېژنو
دې کې زما دې کې دا ستا انځور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

دا ستا ژړا په ځان خندا ګڼي چې
پرېږده چې تل دې په خندا سره خوري
د محبت په نوم نفرت چې کوي
پرېږده دا خلک دې چې لا سره خوري

***

دوی دي د غرونو لا د ښار خو نه دی
دوی لا د ژوند په مانا نه پوهېږي
دوی لا له ژبې کار د تورې اخلي
خدای که ټول ژوند په مینه و پوهېږي

***

منم د تورې او قلم ژبه ده
توره تېره قلم کې ساه نشته
دا پښتانه دي ګنهکار پخپله
که نه پښتو کې هیڅ ګناه نشته

۱۳۷۹/۵/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندګلوي

يو اشنا در پېژنمه
چې له خپله ځانه ورک دی
سخته ډېر نه شي زغملای
په خوی کروړ په زړه نازک دی
***
هره ساه يې مينه مينه
ژوند يې مينه کې اغږلی
چا له مينې دی پوښتلی
زړه يې لاسو کې نيولی
***
نه په ژوند نه يې په خوند دی
د ښکلا بس په يو شرنګ دی
مينه مينه مينه غواړي
له بې مينې ژونده تنګ دی
کمزوري يې بله نشته
بس يو دا چې خالي لاس دی

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم قوت چې ځان کې ويني
هغه مينه او احساس دی

***

د جانان په تصور کې
کړي د مينې ماڼۍ جوړه
غلی غلی ځانته ژاړي
شي او به له سينې کروړه

***

ملګري او مينه پالي
ورته ګرانه يارانه ده
چې کوم يار خوشاله ويني
وايي مينه همدغه ده

***

پرون وسو نن سوځېږي
د ده برخه سوځېده دي
ازادي ازادي وايي
خو لاسونه يې په خوله دي

***

د چا اوښکې راشي غم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانته ګوښې بې وسې نه
د ده سترګې شې را ډکې
اشنا ډېرې خوشالې نه

***

چې دا خپل زړګی تسل کړي
کله کله توري نغاړي
د شعر پېغله کړي راخپله
مینه مینه ورنه غواړي

***

بدرژر د پیژندو دی
نه غرېړې نه د کار دی
طبیعت کې نازک رنجه
زېړ په رنګ په وجود خوار دی
۱۳۸۰/۱۱/۳

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزل مزل کې اوښکې

همدا دعا کوم، چې خدایه ډېره زنده ګي
راکړې په زړه داسې یوه وېره زنده ګي
ماشوم زړه مې ګرم نه دی دا چې نه اخلي زور
وهمونو نه وه ډکه زما تېره زنده ګي
نه شاته بېرته تلای شې او نه مخته کومه لاره
یوځای کې سړی داسې کړي راګېره زنده ګي
چې تا ګورمه کله دا خپل ځان شي راته یاد
چې ته نه یې جانانه ده مې هېره زنده ګي

مزل مزل کې اوښکې نوره هیڅ هم نه ده بدره
چې کله یادومه خپله تېره زنده ګي
۱۳۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېره

د ماشومتوب هغسې
يوازيتوب
او شپې نه
کرکه لرم
يوازيتوب
او
شپه ده
چې زړه کې
وېره
کړي.
۱۳۸۱/۱۲/۱ شپه

ګران اسدالله غضنفر ته

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه

ستــړی د دې ژونـد لــه هــره چـاره یم
یار مــې شته عجیبــه ده بې یـاره یم
بیـا بیـا چې دا ستـــا لمنـه نیسمــه
عشقـه تـا ایستـلـی لـه بـل کـاره یم
ښکلــی یو تـړون مــې دی ولــس سره
دې مینـه کې لـرې لـه ســرکـــاره یم
کار د زړه کې پام چې مې ونه پوښتئ
دې مجبـوری ویستــی له اختیاره یم
لو یه ده د خـــدای دنیا خو زه په کې
بـــې کلــــی بې کوره او بې ښاره یم

ډېر به وایي ډېر بـــدره مئین نه دی
زه خـــو هـم روان پر دغـــه لاره یم
۱۳۸۲/۲/۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې حق

منم چې ما سره دې نه رغېږي
خو دا ته نه يې
راته يې ګرانه د بره
د رسره مينه لرم
او زړه مې غواړي هر نظر ته دا ستا
جانه لوګی لوګی شم
د رځنې وګرځمه
خو دا يوه خبره
زما له زغمه وتې
خو دا يوه خبره
د رسره نه منمه
خو دا يو حق د رلره نه د رکوم
چې راته وايې هر وخت
ما سره مينه مه کړه
ما سره مينه مه کړه
۱۳۸۴.۲.۳

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل ښارکې د وربې د میاشتې د 14 نېټې د چاودنې او د بې ګناه ولس د شهادت په ویرکې

د کابل غم

زمــوږه زړونـــه دي چـــې چـــوي د غـــمونو سر ته
ربـــه یو داســـې زړه دې رانه کړ چې غم پکې چوي
پـــر مـــا د مینـــې او ښکلا پیرزو د هیچا نه شتـــه
کابل چې ښکلی شي لږ ساه واخلي بیا بم پکې چوي

۱۳۸۱/۲/۱۴

ښاپېرۍ

ولې حیرانېږې، چې د ګورم
بسم الله وایم
تا مګر دا نه وې:
ښاپېرۍ یمه؟

۱۳۸۱/۵/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترږی ګریوان

ښـــه مـــې ګـــورې، ډېر ارمانه سټرې یم
مــه مـــې لټــوه جـانـانـه ستــــــړی یم
نه مـــې شته سکـون، قرار مې نشته دی
ډېـر لـــه دې مکـان زمـانـه ستـړی یم
څــه کـه سره لمبـــه رالـره ځمکه شوه
ستـــا د لاســه هـــم اسمانه ستـړی یم
وچې مـــې چینې د ستـرګو نـه ګـورې
تـږی، لـه دې خپـل ګـریوانـه ستـړی یم

دومـــره بـدره ستــړی لـه چا نـه یمـه
څومـــره چـې لـــه خپله ځانه ستـړی یم

۱۳۸۷/۲/۱۸

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لېونتوب مبارکي

ژړا زما به په مزار کې کوي
د بوې به بلې هر یو وار کې کوي

هغه زما د زړه له واکه نه دی
ته چې د سترګو یو ګوزار کې کوي

عشقه ته هم زما د زړه په خبر یې
دا بې واري چې ته په وار کې کوي

پټ په کې ښکاري دې اقرار په مینه
کو مه خبره، چې انکار کې کوي

شبخه په دې کې دې بس نه یمه زه
ته، چې خبره د زړه کار کې کوي
هغه خبـــــره دې رښتیا ښکاریږي
پته یې هر چا نه، چې ډار کې کوي

وا مبارک دې لېونتوب شه بدره
خبرې ځان سره په لار کې کوي
۱۲/۹/۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باران انځور

ما خپل قلم
اشنا
له وریځو ډک کړ
تا د باران رانه
انځور غوښتی و
۱۳۸۷/۳/۳

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

اوښکې مې په سترګو کې ډنډ بڼې ژوند
دا خو ستا له مخه مې خوښېږي ژوند

هره لاره ستا منزل ته رسي خو
لار په لاره ما سره سوځېږي ژوند

څومره، چې ترخه شي لا خوښېږي مې
چا ویل، چې نه به لا خوږېږي ژوند

راشه یوه خبره مې په زړه کې ده
راشه، چې خبره پاتې کېږي ژوند

یار شته دی خو زړه کې چې دا هم نه وي
ځای په ځای ولاړ دی که تېرېږي ژوند

زړه ته بدر کم دی خو چې راشې ته
دا لېونی خوښ دی، چې ډېرېږي ژوند
۱۳۸۸.۵.۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما زړه

پېژنم يـــې ښــه جانانه ما ته معلومېږي، زړه
وايې خلـه نور ستا دې وي له تا سره جوړېږي زړه
دا منــــم زمـــا دی خو له ما سره رغېږي نه
عشـــقه دا خو ته يې چې په ژبه دې پوهېږي زړه
تا پســـې اوبه اوبه، اوبـــه شولو که ګورې يې
دا دی اوښکې اوښکې مې له سترګو نه توېږي زړه
ها چې ماشـــومان وو لا او لاس نيولي ګرځېدو
پوه به شوم، چې هر نظر سترګې کېږي زړه

بدره ښــــــــه يې پېژنم يو عمر مو ژوند کړی
تېر به شـــي له ما نه خو له عشقه نه تېرېږي زړه
۵، ۲، ۱۳۸۸
د شپې لس بجې، کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظلم

په دې زه نه پوهېږم
دا ظلم ولې کوي
دغسې ولې وايي
چې زه يوازې يمه
خير !
ورته به څه ووايم
هغه خبره نه ده
ښايي ما نه پېژني
ښايي هغې زړګيه
چا سره سترګې جنګولې نه وي
او دا ورته ښکاري نه هيڅ
چې زه يوازې نه يم
زما په زړه
زما په ذهن
او په خيال کې يوه دنګه اوسي
چې په هر دم او قدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

همیش وي مله راسره
راسره خاندي او خبرې کوي
له دې یادونو سره
ما ته مې ځان یوازې نه ښکارېږي
خو هغه ظلم کوي
او بس همدا
یوه خبره یې ده
چې زه یوازې یمه
خو زه یوازې نه یم
ما سره مینه مې ده
۱۳۸۸،۲،۱۸

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه

وروسته له شلو کلو
په خپلې کړې دعا
منې!
چې د پریم پښېمانه ګلې
***
له چا نه ومې پوښتې
د پر مې نږدې ومو ندې
هغه شېبه په زړه مې نور وورېد
سترګو مې د هغو شېبو
رڼا رڼا په انځورونو شولې
***
هغه شېبه هم راته یاده شوله
چې تا د خپل حسن
غرور ته مخ کړ
او پر ما تندر پربوت
زړه مې ټوټې ټوټې شو
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما مې د خپل زړګي ټوټو ته ژړل
او د همدې اوښکو بهير په شپو کې
ټوټې ټوټې زړګی مې
جانانه لپه شوله
هغسې لپه د ښېرا
چې نن پښېمانه يم پرې
۱۳۸۲/۸/۲۷
کندهار، نوی ښار

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان زړه

عشقه ښه ګورې، پرهرونو نه، چې جوړ دی زړه مې
چې مېلمانه لري نو مه وایه، چې سوړ دی زړه مې
اوبه اوبه خو بس جانانه یو په تا پسې دی
کنه غمونو د دنیا ته خو کروړ دی زړه مې
ورته د ډاراو د ډېوانو کیسې نه کومه
هسې نه ویې وهي وېره لا خو ووړ دی زړه مې
خلک دا وایي، چې اخر کې هرڅه زړه ووهي
یو څوک خو ودې وایي ماته عشق نه موړ دی زړه مې

ږیره کې سپین و ښته منم چې وږولی یمه
خو بدره دا منلی نه شمه چې زوړ دی زړه مې
۱۳۸۸/۲/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمګړې شپې

راځــه که ګــورې یــې خوبوړې شپې دي
تیارو کــې نغښتې اشنا سترې شپې دي
وې دې، راځـــــم او بیا له هغې شپې نه
خوب مې له سترګو ځنې وړې، شپې دي
زړه مــې دې سیوري ته چې غواړم همیش
عشقــه لــه غېږ مــې دې راوړې شپې دي
ارمــانــه ستـــا ســودا اخیستــی یمــه
زمــا د ژونــد ډېــرې نیمــګړې شپې دي
منــم کــه سختــې دي خــوږې خو هم دي
د مینــې غېــږه کــې مــې کړې شپې دي
پــه انتظـار انتظـار بـدر دا ستـــــا
پخپـــــــلو اوښکو رڼې کړې شپې دي
۱۳۸۸/۹/۹

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه

منم، چې مخته تر دې
ته، خوښېدې مې زیاته
راته وې ګرانه ډېره
خو دا احساس مې کله کړی نه و
داسې مې هیڅکله ګڼلې نه وو
زړه مې د غسې درزېدلی نه و
کله یې هم داسې خبرې رانه نه وې غوښتې
***
پرون سهار کله همدا ، چې ته مې ولېدلې
د زړه درزا نه وایم
راته تر هر وخت او تر هر چا اشنا
ښکلې ښکاره شوې ډېره
ما داسې ښکلې
کله لېدلې نه وې
ستا دا ښکلا جانانه
شوه زلزله مې په بې حسه زړه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغسې تو له ورځ ما ښامه پورې
زړه تخنولمه، له ما نه يې خبرې غوښتې

***

ما ښام ناڅاپه غوندې ځير شومه، چې
بهر رڼا ده، هر څه سپين ښکاريږي
هسک ته، چې و مې کتل
سپوږمۍ د څوارلسو وه
ما د سپوږمۍ څېره کې ته ولېدې
زړه مې بيا وسکوندېلم
بيا يې خبرې غوښتې

***

خوب کې مې وليدل، چې
زه په رڼو اوبو کې ژوند کومه

***

سهار، چې پاڅېدلم
پوه نه شوم ولې يو دم
زړه کې له تا سره مې
احساس د مينې وکړ.
۱۳۸۸د ليندۍ ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړګې، مینه او کرکه

تا چې له مینې، مینې وپوښتلم
او ما په ډېره مینه وویل درته
چې زه مین پخپلو سترګو یمه
له خپلو سترګو سره مینه لرم
خو ستا نمجنو سترګو
کرکه مې راوسته له خپلو سترګو
وې مې چې کاش کله مې سترګې نه وې

د چنګاښ شلمه ۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادونه:
په ۱۳۷۷ هجري لمريز کې زما د منظومو کرښو يوه ټولګه د ښاغلي اسمعيل يون په زيار چاپ او خپره شوه، دلته له هغې ټولګې څو بېلګې بيا راوړم.

د خپل پلار په وير کې

ورک په ورکو کې

شپې شوې تېرې
کلونه تېر شول
خو مې په زړه لکه د نن وربېږي
په يادېدو کې دي نن
په زړه مې غم راپرېوت
سترګو مې اوښکې وکړې
درپسې ومې ژړل
په زوره زوره هسې
چې چا په چا پسې ژړلې نه دي
***

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلو اسرو واخیستم
چې دې مزار ته درشم
چې دې زیارت وکړمه
زه له کلونو وروسته
ځکه کلونه کېږي
چې ستا له مړینې وروسته
زه له خپل ځان او له جهانه ورک یم
یو داسې ورک چې ورک په ورکو کې یم
غواړم د سترګو اوښکې
دغه رانه
دغه ګلونه ستوري
دغه ځولۍ مې د غمونو خپله
ستا په مزار باندې راوغوړوم
سم دې له ځانه سره وژړوم
در ته کیسې مې د دردونو د غمونو
تېرو هېرو وکړم
هغه کیسې چې ژړوي مې هر وخت
هغه کیسې چې ځوروي مې هر وخت
هغه کیسې چې راته تا یادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کيسې

هغه کيسې چې په کې ورک يمه زه
يو داسې ورک چې ورک په ورکو کې يم

۱۳۷۰،۱۲،۲

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاروړکي لاروي

بېګاه خوب کې مې لیدل چې
یو لاروړکی مسافر یم
نالیدلي لور ته خوځم
په مزل یم
د شپېو په تېرېدو کې د یو ګڼ ځنګله و مخ ته
ځان مې مومم
په فکرونو کې ډوبېږم
هرې خوا ته
د سترګو یا له ډک نظره
بس اوتر او تره ګورم
لټوم مه یوه لاره
له ځنګل نه د وتلو
خو چې هر څو مره زه ګورم
لاره نه شته په ځنګل کې
له ځنګل نه د وتلو

***

له فکرونو ځنې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه هیله مې په زړه شي:
کاشکې یو تن دلته وای خو
چې پوښتلی مې وای دومره
له ځنګل نه د وتلو
کومه لاره چېرته شته ده
او که نه شته.
***
په همدې هیله کې ومه
چې یو څو تنه له لرې
راښکاره شول
سم چې ماته رانږدې شول
ترې مې وپوښتل په مینه:
چېرې درومئ کوم پلو ځئ؟
لکه ما غوندې لار ورکي خو به نه یئ؟
یو تن ماته رانږدې شو
د سترېیا له ډک زړګي یې راته ووې:
دا ځنګل زموږ کور دی
له مودو په کې اوسېږو
لارې ګورو د وتلو

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منزل پلو خوځېږو

***

ما چې وکتل دوی هم وو
لکه ما غوندې لاروړکي
زما هم ډېرې مودې شوې په کې تېرې
په لټون د یوې لارې د وتلو.
د مودو په تېرېدو کې
لکه ما غوندې لاروړکي
یو په بل پسې راتلل او زیاتېدل به
د ځنګل د ونو شمېر ته
ټول په یو مقصد روان وو
یوه لار مو لټوله
له ځنګل نه د وتلو
خو پیدا مو چېرې نه کړه
هسې لاره چې ځنګل نه په وتو شو
حوصلې مو شولې تنګې
جام د صبر مو نسکور شو
یوه پرېکړه مو په ګډه سره وکړه
د ځنګل د سوځولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور مو پورې په ځنګل کړ

ټول ځنګل لمبه لمبه ایرې ایرې شو

او لوګي ترینه ختلو

په جامو کې ځاییدم نه له خوښۍ نه

د ځنګل په سوځولو

تماشه کې د ځنګل د سوځېدو وم

چې په ما له کومې خوا نه

سرې لمبې شولې راتاوې

یوه کړیکه مې له خولې نه رابهر شوه

او راویښ شومه له خوبه

په فکرونو کې مې ډوب شوم

په لار ورکو کې ځان ورک راته ښکاره شو

***

شپېه پس ته چې ویده شوم

یو سپین ږېرې

چې یې هرڅه هرڅه سپین وو

له وېښتو نه تر نوکانو

خدای خبر له کومه راغی

همهغه ایرې ځنګل کې

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې لوګي تر ښنه ختلو
زموږ خوا ته را نږدې شو
له یو سوړ اسویلي وروسته یې دا ووې
دا مو څه کړي دي خوارو ؟
زه نږدې شوم ورته ورو ورو مې دا ووې
له ځنګل نه د وتلو
مجبوري نه اور مو پورې په ځنګل کړ
د منزل په لورې یون ته
بیا یې دا پوښتنه وکړه:
چېرې درومئ کوم پلو ځئ؟
موږ په ګډه ورته ووې:
د ښکلا او محبت ښکلې دنیا ته
بوډا دې باندې، چې پوه شو
له ډېر قهر او غوسې یې
موږ ته ووې:
همدغه ستاسو منزل و
همدغه ستاسو دنیا وه
چې مو وسوه
چې ایرې شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ښکلا يې نوره نشته.

***

چې سهار ويښ شوم له خوبه
په فکرونو کې بيا ډوب شوم
ساده ګي پورې د ځان او د لار ورکو په خندا شوم
يو افسوس مې په خپل ځان او په لار ورکو باندې وکړ
او بيا داسې د اميد له ډک زړګي نه
په دې خواست شومه له خدايه:
چې لار ورکي دې هوښيار کړي
هوښيارۍ سره دې سم په سمه لار کړي
ګنې داسې که ونه شي
نو د دې ځمکې پر مخ به
نور لار ورکي خلک
ټول له ځمکه سره لمبه کړي
ټوله خاوره به ايره کړي
او منزل د خپل ارمان به کړي
په خپلو لاسو خاورې
۱۳۷۱/۱/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ کلی

زموږ کلی
دا د دنګو غرونو شاته
که دې زړه وي
چې ته راشې
د زړګي پردې دې خلاصې کړه په څير شه
او بيا وګوره په مينه:
يوه سره د وينو ليکه
غځېدلې ده له غرونو
چې تر کلي پورې رسي
۱۳۷۳/۱/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

يأس

ښه مې په ياد دي اشنا
چې به پخوا
کله زموږ کلي کې
د ټوپک ډزې وشوې
د ربيمه ورځ
د يو ماشوم هلک په غوږ کې مو
د کلي ملا
ډېرې خوښۍ نه اذانونه کول

***

خو اوس زموږ هم هغه کلي کې
د خندا ګانو او خوښيو کلی
د ټوپک ډزې کېږي
او په هم هغه ورځې
زموږ د کلي ملا
آن له چړګبانګه تر ماښامه پورې
د سر په سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وینو سرو جنازو
چې هديرې ته راځي
کوي لمونځونه
ژاړي

۱۳۷۳/۱/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ارمان

چــې د زخمونو په دردونو اوړو
مــــوږه د ښکلو په کبرونو اوړو
مينه زمــوږه د عـــــمـرونو سفر
په بـلا زلفـو بـــلا غـرونو اوړو
لا چــــې حيا يې د کتو وساتو
لا يـې په سپــورو نظرونو اوړو
زمــــوږه لاره پــه اغــزو وتـلې
دا يــو ارمان ! چې په ګلونو اوړو
قــــدم چې اخلو ثوابونو پسې
قـــدم قـدم په عـذابـونـو اوړو

بـدره چې لارې رانه ورکې دي خو
پــه سپين سهار په ماښامونو اوړو
۱۳۷۳/۲/۱

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شوګیرونو لښکر

ژوند مـــې یو سیند هسې ځپې ځپې تېرېږي او ځي
ګــــورم ساحل ســــره ټکرې خوري ماتېږي او ځي
اوس دې یـــادونـــه هـــم جانانه ستا خویونه کوي
راغلـــي نـــه وي لا چـــې بېـــرته بیا ستنېږي او ځي
د شـــوګیـــرونـــو د لښـــکر د نـــظـــر تاب نـــه لري
خوب مې تر سترګو پورې راشي خو وېرېږي او ځي
چې کـــو مې ښکلې مې زړه واخیستلو اور یې کړلو
نن یـــې له تـــاوه ځنـــې خپله ځنګ ته کېږي او ځي

بـــدره چـــې وایـــم د اشنا مـــخ کې نور نه وایم څه
هـــره خبـــره چـــې کـــومه خپـــه کېـــــــــږي او ځي
۱۳۷۵/۳/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غشو تنده

دا سې چې ړ بړ ړ بړ په ما ګران دی زړه مې
زما خو نـــه دی د جـانـان دی زړه مې
تـورې تېـرې پـــرې هـر نظر پـرېـوځـې
د ويـنو کـــور افـغـانستان دی زړه مې
ستـــا د نـظـــر د بـړبـوکـو هــنـداره
د ښـــايستـــونـو بيـابـان دی زړه مې
راشــــه د غشــو تنـده مــاتــه کړه پرې
ځپــــــې ځپــــې رود روان دی زړه مې
دی د غـــمــونـو حسـرتـونـو جهـان
غـريــــب يې مه ګڼه لوی خان دی زړه مې
بــــدره چې وينې وينې خاندي په کې
پــه پـرهـرونـو چـراغــان دی زړه مې

۱۳۷۵/۵/۱۸

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

حلقې حلقې سترګې

ستا د وعـــدې لـــه انتظـــاره سره
لارې دې څـــارم لـــه ریبـــاره سره
راشه چې سترګو کې مې ګل شوې اشنا
سینـــه مـــوښـــم له هـــره خاره سره
حلقې حلقـــې مې انتظار کړې سترګې
هـــــــــره شپه مې ده له داره سره
داســـې بـــې واره دې راوکتـــلې
چـــــې شوم بې واره سم له واره سره
مینـــــــــې دې داسې لېونی کړمه زه
چې هیــــڅ مې نه لګي هوښیاره سره

بدره اشنـــــا وروستې دیدن کې ووې
مینـــه څـــوک نه کـــوي له خواره سره
۱۳۷۵/۸/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژړا په تال کې

۱۳۷۵کب

کـــه تېـــروم دانـــه وانـــه زنده ګي
جوړوم خيال کې شاهانه زنده ګي

مـــرګه له تا ســـره د مينې په نوم
ده يـــو ښکلـــې بهـــانه زنده ګي

په ګـــريوانـــه لکه د اوښکو لړۍ
تېربېـــږي ځي دانه وانه زنده ګي

خوښه دا ستا چې څنګه ژوند خوښوې
زه خوښـــوم عاشقانـــه زنـــده ګي

غلـــــه نظرونه ورته داسې اوړي
لکــــــه وي ستره خزانه زنده ګي

د يار له ســتـــرګو نه چې ګوري لارې
غوارمــــــه داسې جانانه زنده ګي

بدره چـــــې تال کې د ژړا يې وايم
ده د غـــــــــمونو ترانه زنده ګي

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

توره شپه

تیـــاري دي له سهـــاره تر سهـــاره توره شپه ده
په مـــوږه بدنصـــــیبو دوامـــداره توره شپه ده
بنګړو ته دي شرنګ ورکړه چې دي وپېژنم یاره
ده لار له لارې ورکـه لار پـــه لاره تـــوره شپه ده
بلا د زلفـو اخلـو چـــې په لاره ځـــو د زلفو
د عشـــق د لیونیـو خـو تر داره تـــوره شپه ده
نه جام نه صراحي شته او نه شور ځـــه د بنګړیو
په موږه مینه خوارو داسې خواره تـــوره شپه ده

دیدن ارمان چې راشي بـــدره دا سنـــدره بـــولو
چې خوارې سترګې ګرځو لا اغیاره توره شپه ده
۱۳۷۵/۱۲/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه

خال دې له سجدې او له کعبې وايي
سترګې دې له جام او میکدې وايي
هغـه شـم اشنــا او که په دغه شم
هر يـوه لــه خپـلې عقيـدې وايي
نه منـــم له شيـخ ســره يې نه منم
شپـــه د پسرلي کې له تـــوبې وايي
بيا يي مې ملا کوم لورته بيا يي مې
ما تـــه دې جــانانه له کوڅې وايي

بـدره ليــونو سره چــې خوښ يمه
مينه يې چې غــواړي له هغې وايي
۱۳۷۲/۲/۲

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خندا تصویر

اشنـا تـه خاندمـه دنیا تـه خاندم
د غـریب خـوله یمـــه هرچا ته خاندم
د اوښکو اوښکو په هنداروکې مې
موسکی تصویرستا دخندا ته خاندم
ستا مجبـوری، نـه عشقه نه پـــوهېږم
چـې چـاتــه ژاړمـه او چـاتـه خـاندم
پوهېږې ستا وعدې چې څنګـه ژاړم
کـلـه بیګـاه کـلـه سبـا تــه خـاندم

جــانـانـه بـدر چـې مـیـن یـم پـر تـا
تـا تـه بـه ژاړمـه او تـا تـه خـانـدم
۱۳۷۲/۱۱/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه هنداره

د وینو ستوري له مداره نیسم
د زړګي درد مې له پرهاره نیسم
بازار د ښکلو کې چې څه کومه
دې غلام زړه ته مې باداره نیسم
قاتل نظر انځوروم د اشنا
ځکه د زړه ورته هنداره نیسم
زه یمه داسې لیوني ملګرو
او ښکه مې سترګو کې ایساره نیسم

نن مې نظر نظر کې اوړي بدره
چې هر نظر ، نظر کې لاره نیسم
۱۳۷۲/۱۱/۴

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلوريزې

نظر، چې وا ړوې خو ډېر خلک دي
د مينې وړ چې دي په شمېر خلک دي
د هر چا هغه وخت کې پام شي ورته
چې افغانان له سره تېر خلک دي

***

وايي غلط شوم او بيا بيا ورګوري
يو څوک د يار د مخ خالونه شماري
له خپله ځانه پسې ورک چې ښکاري
زړه مې دا ستا د ياد پلونه شماري

***

چې بې سته د جنت په لوري نه ځي
پښتانه خو د پښتو د پت په پله ځي
نورې لارې که هم وتې دي منزل ته
زه په هغه لاره ځمه چې مې زړه ځي

***

دا وختونه که نغمې نغمې د نور شي
نصيبونو کې زموږه سور تنور شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بد نامه وي د مينې، ليوني وي
بدره کلي کې زموږه هغه چور شي

***

چې له سترګو نه په زړونو پريوتلي
ليوني دا سې مقام ته رسېدلي
ښکلو راشئ د غرور سرونه تيټ کړئ
لوی لوی غرونه مو ليدلي نړېدلي

***

بيا ګرځېدنې، چې کوڅې مو د زړګو دي
ګودرونه د نظر په وچېدو دي
په چمن کې د ګل سترګې شوې نمجنې
چې اغزنې فضا ګانې د سپرلو دي

***

د ليونتوب ټولې کانې کومه
تا ته دعا ځان ته ښېرې کومه
مينې حيرانې سترګې څه را ګورې
څه چې کومه ستا د ښې کومه

***

څه شو جانانه که ارزان خرڅېږي
مينه کې زړونه په تاوان خرڅېږي
چې يې خندل هوسپرستو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغــه له مينې نه قربان خرڅېږي

***

زړه مــې لوګو او اسويلو ونيوه
ستـــا د خندا د اورلمبو ونيوه
د خپل ارمان په وينو سور ليونی
هغــه دی مري بدر سلګو ونيوه

***

سترګو نــه په غم کې اوښکې تويې شي
راشــــي زما اوښکې خوشالۍ کې هم
تاب که مې دې وختــه د قيد نشته هم
تنګ مــې شي زړګی ستا ازادۍ کې هم

***

د عشق انځور د سترګو جنګ کې نغښتی
زمــــوږه ژوند د وينـــو رنګ کې نغښتی
دا سنـــد ريـــــز د ګـــودرونـــو ښايـــست
د منګو شـــور د بنګړو شرنګ کې نغښتی

***

لا زما پـــه ژبه چې شپيلۍ شپيلۍ غزل شين دی
غره کـــې د زړګي زما د زلفو دې ځنګل شين دی
دا شاړې کوڅې لارې چې ما ته شاړې نه ښکاري
لا خــــو هر قدم کې يې زما د اشنا پل شين دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

پــه خپــل وطــن وطن وطن ژاړم
د یــار ســالــو د ځــان کفــن ژاړم
د پسرلي کاروان په لاره لوټ شو
ګلــــــــــونه ژاړمه ګلشن ژاړم

***

په لګېدو چې وې ډېوې مړې شوې
د انتظار غېږه کې شپې مــړې شوې
خوند په سبا کې د سبــا چې نه شته
د ژوند بــاور هغه وعدې مړې شوې
۱۳۷۴

***

وعدې د نن چې په سبا تېروي
هره خبــــــره په خندا تېروي
مینه کې بام ته د کبرونو خبرې
هــــــره روا په نا روا تېروي

***

چـــې کوڅې د یار د مکر خندا واخلي
لیـــونـــــي به لیــوني په کاڼو ولي
لا چې سر په سر رندان جامونه تش کړي
لا پــه ســر ســر بــه ساقي په کاڼو ولي

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

دا وختــونه که نغمې نغمې د نور شي
نصیبـــونو کې زموږه سور تنـــور شي
چـــې بــد نامــه وي د مینې لیوني وي
بــدره کلــي کــې زموږ ه هغه چور شي

***

د اور پــه څپــو ځنګېدلې ځواني
سوځوو خپــله سوځېدلې ځواني
ست تــه کتلي مو د سترګو د جام
ګرځوو ځکـــه جل وهلې ځواني

***

څه مې پوښتې له اغاز او له انجام
چې مــې ګـورې همـد غـه یمه تمام
سراســر زه لېونی یم لیونتوب یم
سراسـر مې نه سکون شته نه ارام

***

وا ړوه کاتــــه دې ښه ترخه اشنا
هغه کوه غواړې چې دې زړه اشنا
بدر ته دې هــو چېــرې ونــه کړله
ودې سبـځه ټول عمــر په نه اشنا

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږه چې ګرځو دا سې خوارې سترګې
د ساقـي خپلـې دي خمـارې سترګې
زمـوږ پـه حـق دا فيصـله شـوېـده
ملګـرو ګرځـو چـې لا چـارې سترګې

❊❊❊

عشقه ستا په غېږه کې د خوب دعا
شـوې ده زمـا د ليـونتـوب دعـا
کـوم خلـک چې ګورې ليونې ګرځي
شـوې د هغـو د مينتـوب دعـا

❊❊❊

کلـه پـه جـام او په مينـا ماتېږي
زمـا چې تنده ياد کې ستا ماتېږي
د ليـونـو زور کـــه دې ولېـد لو
رقيبـه سر دې خامـخا ماتېږي

❊❊❊

د ژوند چې ټولې ورځې شپې وژاړم
بې وفا څومره دې وعدې وژاړم
چې دې خـوارې يـادونه وخندوم
زه به غمـونـه دې پـه دې وژاړم

❊❊❊

عشقه چې ستا په نوم مجبور بنه دي

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لیــونــي زړونــه ناســور ښــه دي
چــې د رښتیا په مینه دار ته درومي
بدره یـــاران لکــه منصــور ښــه دي

***

عمــري قیــدي یــم د ژړا زه ځنــګه وخانــد مه
چې خوله مــې نه شته د خندا زه ځنګه وخاند مه
دا خــو چــې وایې په بې نمو سترګو مه راګوره
بــدر چــې ستــا غواړم رضا زه ځنګه وخاند مه

***

شک د وفا شته دی که هم ښکلو کې
مــوږه په یقیــن یې د وعــدې ورځو
دا چــې هــره لاره پــه منــزل وځــي
خو ښــه مــو په هغه که په دې ورځو

***

مینې چې نوم دې ښه په شور اخلي
د غســـې زړونــه به خود اور اخلي
جانان راګوري خو چې سم نه ګوري
بـــدره زړګی به مې څه زور اخلي

***

دا چې پوه شوم په بیګانه او سبا نه
ما لــــــه عشقه ژړا زده کړه خندا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـــدره داسې جنتي ګناهکار نه شته
چـــې دې ټول عمر ثواب کړي ګناه نه

***

مینـــې ته هر قدم مجبور زړګی
په دار زنګېږي مې منصور زړګی
ستـــا د ستم دا مهربانې سترګې
چـــا ته مـــې وښیم ناسور زړګی

***

سینـــــدونه ژاړمه د جال په لمن
اورونـــــه ګرځوم د خیال په لمن
بخت چې د خپلې مینې ژاړم بدره
د خیر ګرانې شوله د سوال په لمن

***

د دنیـــا که د حالاتو هر څه تول وي
د ملنګو یو امید وي بل کچکول وي
رقیـــبان له بدره داسې تاو را تاو دي
لیـــــونې ځنې واړه لکه راټول وي

***

لا غوســـه غوسه شه قهربدلې راته وګوره
ټکنـــــــده غرمه شه قهربدلې راته وګوره
لامې منصورې خمارې تنده اورنۍ چې شي

SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا د دار نشـــــــه شه قهرېدلې راته وګوره

***

جانانــه ستا نه به همدا سې لور په لور ګرځم
چې ملنګې مې غوره کړې کور په کور ګرځم
پـــه پر هرونو چې د خوږ زړه ارمانونه وځي
څـــه خو به وي، چې زه په تمه د ټکور ګرځم

***

چې خوښېږی مې خونکارې سترګې ستا
کـــوي زړه تـــه زمـــا لارې ستـــرګې ستا
مـــا پـــه خوب کې ته ليدلې چې ويل دې
ليدا ی نه شـــم بـــدره خوارې سترګې ستا
۱۳۸۸/۱۰/۲۱

***

لا به خنـــدومـــه دې لا چـــې ژړېـــــدا ی شمه
ستا له تصور ســـــره تـــا تـــــه رسيدا ی شمه
جـــام د دنيا بـــده زوروره بـــې خـــــودي لري
عشق راکړی لاس دی که نه کله ودريدا ی شمه
۱۳۸۷/۳/۲۷

***

نظـــر چې وا ړوم په هر نظر کـــې تا ووينم
يـــاره دعا کوم همدا ، چې دې بيا بيا ووينم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپه کومه چې په مینه خپل لاسونه رب ته
تا آئینه کې مې د لپې په خندا ووینم
۲۷/۱۰/۱۳۸۲
د کلید مجلې دفتر

بیتونه

د دنیا کـه د حالاتـو هر څه تول وي
د ملنګو یو امید وي بل کچکول وي

***

بدره زما چـې له خپل کلي سره نه رغېږي
هر ګنهکار په کـې په نوم د لیوني پېژني

***

چې د ښکلو د خوږو خبرو مړه دي
لکه بدر لېـوني به تل دوکه شي

***

په زړه ته مې ستا د راتلو زېری وشو
چا راتـه وې سترګو دې بار نیولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

ياد دې د مينــې چې وي مل راسره
خود به دې غم وي په هر پل راسره

***

ښـــــه ده ساته ته د خبـرو روژه
دي اختـرونه دې ويانديې سترګې
۱۰/۵/۱۳۸۲

***

عشقـه ! خداى دې زړه نه زما کم مه کړه
تـه يې چې دا ژونـد پـه دعـا ډېر غـوارم
کندهار، نوى ښار
۱۳۸۲

***

زړګيـــه ظلـم يــې ګنې، کـه انتهــا د مينې؟
چې خپل اشنا درپسې توره په خندا ګرځوي
۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

❋❋❋

یو ښار کې د چا سر ته، بل ښو کې زړونه پېيي
دا یو قتل ګناه ده او دا بل قتل ثواب دی

1380.3.7

❋❋❋

تمـــامه شپه مې للمه لار د انتظار څارله
تمامه شپه ډېوې وې بلې او باران ورېده

SAMSOOR.COM

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library